هفته نامه
# معارف
اوونیزه
د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه
سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۰۵) ماه محرم‌الحرام ۱۴۴۷ هـ ق. مطابق ماه سرطان ۱۴۰۴ هـ ش.

له ښوونې او روزنې
پرته هېڅ هېواد پرمختګ
نشي کولای

## د پوهنې وزارت سرپرست په حبیبیې عالي لیسه کې د څلورنیم میاشتنیو آزموینو له بهیر څخه لیدنه وکړه



د پوهنې وزارت سرپرست محترم الحاج مولوي حبیب الله آغا، په داسې حال کې چې د کابل ښار د پوهنې رئیس محترم قاري عبدالباسط حقاني او یو شمېر مسئولینو یې ملتیا کوله د کابل ښار حبیبیې عالي لیسې ...

۲مخ

## دیدار سرپرست وزارت معارف از جریان امتحانات چهار و نیم‌ماهه در لیسه عالی استقلال

محترم الحاج مولوی حبیب‌الله آغا سرپرست وزارت معارف، درحالی که از سوی محترم قاری عبدالباسط حقانی، رئیس و مسئولین ریاست معارف شهر کابل همراهی می شد، از جریان امتحانات چهار و نیم‌ماهه شاگردان در لیسه عالی استقلال شهر کابل بازدید نموده و در خطاب به آن ها چنین گفت: «هر جوان افغانستان باید هم از علوم دینی و هم از علوم عصری واقف باشد،...

ص۲




## د پوهنې وزارت په تېرو ۳ میاشتو کې لسګونه مدرسې او ښوونځي جوړ او ترمیم کړي دي

پوهنې وزارت په تېرو دریو میاشتو کې له خپلې بودجې همدارنګه هېوادوالو او مرستندویه بنسټونو په مالي مرسته توانېدلی چې د مرکز کابل په ګډون د هېواد په یو شمېر ولایتونو کې په لسګونو بابه د ښوونځیو او مدرسو د رغونې چارې تر سره او د یو شمېر نورو ښوونځیو او مدرسو ودانۍ جوړې او هم د بنسټ ډبرې کېږدي.

د پوهنې وزارت ویاند محترم قاري منصور احمد حمزه وايي: د ۱ میلیارد، ۴۲ مېلیونه او ۲۵۳ زره افغانیو په لګښت د کونړ، بدخشان، غزني، بامیان، پکتیکا، دایکنډي، فراه، بغلان، ننګرهار، فاریاب، جوزجان، پکتیا، کندهار، لغمان، نیمروز، میدان وردګ، هرات، کندز او لوګر ولایتونو کې د ۳۵ بابه ښوونځیو او ۵ بابه دیني مدارسو لپاره نوې ودانۍ جوړې شوي، د ۲۰ بابه ښوونځیو او ۶ بابه دیني مدارسو لپاره د ودانیو دبنسټ ډبرې اېښودل شوي او هم د ۹۳ بابه ښوونځیو ودانۍ ترمیم او د ۴۸ بابه ښوونځیو او دیني مدارسو رغنیزې چارې سرته رسول شوې دي.



نوموړي همداراز زیاته کړه چې په تېرو دریو میاشتو کې د هېوادوالو او یو شمېر همکارو بنسټونو په مرسته د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د مېلیونونو افغانیو په ارزښت ښوونځیو ته درسي توکي، خیمې، لابراتواري وسایل، مېزونه، څوکۍ او د کتابتونونو لپاره په زرګونه ټوکه علمي کتابونه هم ویشل شوي دي. چې په دې سره د هېواد په سلګونو زره ...

۲مخ

## توزیع مواد ممد درسی به ارزش ۳۴ میلیون افغانی برای مکاتب ولایت پکتیا آغاز شد



ریاست معارف ولایت پکتیا روند توزیع مواد درسی و خیمه‌ها را که از سوی یک نهاد همکار با معارف برای مکاتب آن ولایت کمک شده است، آغاز کرد. این کمک‌ها شامل کتاب‌های نصاب درسی، رهنمای معلمان، بسته‌های اداری، بسته‌های معلمان و قلم‌های مارکر می‌باشند که ارزش مجموعی آن نزدیک به ۳۴ میلیون افغانی است.

در مراسم آغاز توزیع این اقلام محترم ...

ص۲

## آغاز توزیع مواد ممد درسی برای مکاتب ولایت غزنی

روند توزیع مواد ممد درسی به ارزش ۷۲ میلیون افغانی به کمک یک نهاد همکار با معارف، با حضور محترم الحاج مولوی میر نصیر احمد حسینی، رئیس معارف ولایت غزنی آغاز شد.

این کمک ها شامل کتابچه، بیک های کتاب، خیمه‌ها، تخته‌ها، کتاب‌های درسی صنوف اول تا سوم و سایر موارد ضروری می باشند که در نظر است مطابق سهمیه برای مراکز تعلیمی و شاگردان مکاتب ولایت غزنی توزیع شوند.

رئیس معارف غزنی طی سخنانی تأکید کرد که این مواد درسی به صورت شفاف از سوی کمیته مؤظف، به مکاتب مرکز و ولسوالی‌های آن ولایت توزیع خواهد شد.

رهبری وزارت معارف از همکاری ومساعدت نهاد های همکار با نظام معارف قدردانی کرده و این گونه اقدام را گامی روشن در راستای بهبود معارف در جامعه می داند.

## افتتاح یک باب مکتب به ارزش ۱۶,۸ میلیون افغانی در ولایت فاریاب

تعمیر جدید ابتدائیه جوق‌ها در مربوطات ولسوالی دولت آباد ولایت فاریاب به هزینه ۱۶.۸ میلیون افغانی به کمک یک نهاد همکار با معارف با حضور مقامات و مسئولین معارف آن ولایت به بهره برداری سپرده شد.

محترم الحاج مولوی حمید الله ارشاد، رئیس معارف ولایت فاریاب طی سخنانی ساخت تعمیر مکتب یاد شده را گامی مهم در توسعه و رشد متوازن معارف، بهبود کیفیت تعلیم و تربیه و ایجاد محیط مناسب آموزشی برای شاگردان عنوان نموده افزود:

با ساخت این تعمیر بخش زیادی از مشکلات شاگردان در محل مرفوع گردیده و برای آن ها زمینه آموزش ...

ص۲

## در این شماره

آزموینې د ښوونې او روزنې د پرمختګ هنداره ده — صفحه ۲
زندگی نامه میرزا عبدالقادر بیدل دهلوی(رحمة الله) — صفحه ۳
غوره وېناوې — ۴مخ

سرمقاله

## آزموينې د ښوونې او روزنې د پرمختګ هنداره ده

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلحَمدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلَوٰةُ وَالسَّلَامُ عَلَى سَيِّدِالمُرسَلِينَ وَعَلَى آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ

په ښوونيز نظام کې آزموينه هغه بنسټيزه کړنه ده چې په پايله کې يې هم زده کوونکي او هم ښوونکي خپلو نيمګړتياوو او پرمختګونو ته ځير کوي او دوی دې کار ته هڅوي چې د ښوونيز کال پاتې برخې کې خپلې مثبتې کړنې نورې هم ډېرې کړي او خپلو منفي کړنو ته پام وکړي. آزموينه يواځې د زده کوونکو د ارزونې لپاره نه ده بلکه ښوونکي هم خپلو نيمګړتياوو او پرمختګونو ته ځير کوي چې د ښوونيز کال په بهير کې يې درلودې او د حل په موخه يې د ښوونيز کال پاتې برخه کې جدي پاملرنه ورته وکړي. که په ټوليزه توګه آزموينو ته پام وکړو آزموينې ښوونکو ته دا فرصت برابروي چې د درسي کال په منځ کې د زده کوونکو د زده کړې سطحه وارزوي، ستونزې يې په نښه کړي، او د سمون لپاره يې نوي تدابير ونيسي. لکه څرنګه مو چې مخکې يادونه وکړه ښوونکی هم خپله ارزونه په پام کې لري له آزموينو پرته، ښوونکي نشي کولی معلومه کړي چې زده کوونکي له درسي موادو او زده کړې سره څومره آشنا شوي، آيا اغېزمنه زده کړه يې کړې ده او که نه؟ په کومه برخه کې لا هم تمرکز ته اړتيا ليدل کېږي. او د دې تر څنګ ښوونکی هم په خپله برخه کې خپلو نيمګړتياوو ته ځير کېږي او هڅه کوي چې په راتلونکي کې ورته پاملرنه وکړي.

له بلې خوا، آزموينې زده کوونکي هڅوي چې په دوامداره توګه مطالعه وکړي او خپل درسي پلان منظم کړي. خو دا خبره بايد هېره نشي چې د ښوونکي دنده او مسئوليت دی چې زده کوونکي داسې وروزي چې آزموينه د دوی لپاره معيار نه وي ښوونکي بايد زده کوونکي و هڅوي چې زده کړه د ځان او د هېواد د ښې راتلونکې لپاره وکړي نه په آزموينې کې د لوړو نمرو د تر لاسه کولو لپاره ځکه په يوه داسې ښوونيز چاپېريال کې چې يواځې آزموينې د زده کړې لپاره معيار وګرځول شي هغه زده کړه به نيمګړې وي چې پرته له شکه به نه زده کوونکو ته د درد چاره شي او نه به د هېواد د ښې راتلونکې لپاره يوه ښه وسيله. يواځې د وخت ضياع به وي چې زموږ د عبث وخت تله به يې درنه کړې وي او بس

د دې آزموينو بله مهمه ګټه دا ده چې د والدينو او ښوونځي ترمنځ د زده کوونکو پرمختګ او ذهني ودې ته زمينه برابروي. کله چې والدين د هرې آزموينې پايلې تر لاسه کوي، نو کولای شي د خپلو اولادونو ستونزو ته په وخت سره متوجه شي او د ښوونکو سره يې د حل په لارو چارو خبرې وکړي. خو په ټينګار سره بيا هم وايو چې آزموينې يواځې د نمرو او په ټولګي کې د درجې اخيستو وسيله ونه ګڼل شي، بلکې اصلي موخه بايد زده کړه وي. که چېرې آزموينې د زده کوونکو د ذهني ودې او پرمختګ په روحيه په رڼه او سالمه فضا کې ترسره شي، نو بې له شکه چې د ښوونيز نظام د ودې او پرمختګ لپاره به يوه ګټوره کړنه وي.

په پای کې، ويلی شو چې آزموينې د زده کړې او د زده کوونکو د پرمختګ لپاره يو اغېزناک او ارزښتمن ګام دی چې د ښوونکو، زده کوونکو او والدينو د ګډې همکارۍ په پايله کې به دا آزموينې لا اغېزمنې شي، او زموږ ښوونيز نظام به لا ډېر پياوړی او معياري شي.

موږ له ټولو ښوونکو، زده کوونکو او محترمو والدينو مننه کوو چې د دغو ارزونو پر مهال يې خپل مسؤليتونه په ريښتيني توګه ترسره کړي. موږ هيله لرو چې د څلورنيم مياشتنۍ آزموينو پايلې به د زده کوونکو د لا بريا، هڅونې، او ښې راتلونکې لامل شي.

نو راځئ چې دا پړاو د زده کوونکو د پرمختګ دروازه وګڼو او دوی وهڅوو، مشوره ورکړو، ملاتړ يې وکړو او باوري شو چې دوی د ځان د اصلاح، نوښت او بريا پر لور حرکت کوي. ښوونکي، والدين او زده کوونکي بايد دا فرصت د مثبت بدلون لپاره وکاروي، تر څو زموږ ګران زده کوونکي ښې زده کړې ته لاسرسی پيدا کړي او د همدغه ښو او معياري زده کړو له برکته نوی خپلواکۍ رسيدلي هېواد ته، د اسلام د مبارک دين او د اسلامي ارزښتونو په رڼا کې د ښه خدمت جوګه شو.

ان شاءالله

## کمک ۵ میلیون افغانی باشندگان ولایت لوگر با معارف

مسئولین ریاست معارف ولایت لوگر میگویند که در سه ماه اول سال جاری ۱۴۰۴ خورشیدی، از سوی باشنده گان علم پرور این ولایت، برای اعمار و باز سازی ۲۲ باب مدرسه دینی و مکتب، کمک‌هایی به ارزش مجموعی حدود ۵ میلیون افغانی دریافت کرده اند.

این کمک‌ها از سوی باشنده گان این ولایت به گونه داوطلبانه به هدف تقویت روند معارف، فراهم‌سازی محیط آموزشی مناسب برای کودکان و همکاری با بخش های معارف انجام شده است.

در این کمک‌ها مواردی چون وقف زمین برای ساخت ساختمان‌های مکاتب و مدارس، ساخت صنف‌های درسی و دیوارهای احاطه، بازسازی ساختمان‌های درسی و ملحقات آن، فراهم‌سازی آب آشامیدنی و نصب سیستم های برق آفتابی، تهیه مواد درسی برای شاگردان و برخی موارد دیگر شامل می‌باشند. وزارت معارف کشور از حمایت و مساعدت های مادی و معنوی مردم کشور به ویژه مردم معارف پرور ولایت لوگر با نظام معارف اظهار قدردانی و سپاسگزاری می کند.

## د پکتيکا ولايت د پوهنې رياست له لوري د زرګونو ټوکو درسي کتابونو د وېش لړۍ پيل شوه



ياد کتابونه د پوهنې وزارت او يو همکار بنسټ له خوا برابر شوي، چې ټوليز ارزښت يې ۷ مېليونه افغانۍ اټکل شوی.

د پکتيکا ولايت پوهنې رئيس مولوي عبدالوکيل خالد وايي، دغه کتابونه به د ولايت په مرکز او ۲۴ ولسواليو کې په شفاف ډول ښوونځيو او کليوالي مدارسو ته وويشل شي.

## آغاز کار ساخت دیوار یک باب مکتب در ولایت بلخ

در ادامه همکاری‌های مردمی با وزارت معارف، کارساخت دیوار احاطوی مکتب مامور عبدالله شهید واقع شهرک خالد شهر مزارشریف مرکز ولایت بلخ به هزینه ۵۰۰ هزار افغانی آغاز گردید.

به گفته مسئولین معارف آن ولایت با اعمار دیوار احاطوی مذکور، مشکلات امنیتی و محیطی به گونه کامل رفع خواهد گردید.

وزارت معارف یک بار دیگر از مساعدت ها و حمایت های مادی و معنوی مردم کشور و بالاخص مردم معارف پرور ولایت بلخ اظهار قدردانی می کند.

### د پوهنې وزارت سرپرست ...

زده کوونکو د څلورنيم مياشتنيو آزموينو له بهير څخه ليدنه وکړه.

د پوهنې وزارت سرپرست د اوومې تعليمي حوزې له مسئولينو سره تر کتنې وروسته، حبيبيې عالي لېسې ته لاړ چې د ياد ښوونځي د مسئولينو، استادانو او زده‌کوونکو له لوري له تود هرکلي سره مخامخ شو.

د پوهنې وزارت محترم سرپرست د آزموينې بهير څخه د ليدنې په ترځ کې ښوونکو ته سپارښتنه وکړه، چې د ارزونو پر مهال دې د زده‌کوونکو وړتيا، استعداد او لياقت ته جدي پاملرنه وکړي او هغوی دې د زده کړې په بهير کې په اسلامي او ملي روحيې سره وروزي.

همداراز نوموړي زده‌کوونکي د علم او پوهې ترلاسه کولو ته وهڅول او ټينګار يې وکړ چې زده‌کوونکي بايد درسونه يواځې د آزموينې لپاره نه، بلکې د خپلې علمي کچې لوړولو لپاره ولولي، تر څو د هېواد او د ټولنې روښانه راتلونکې لپاره اغېزمن خدمتګاران شي.

### دیدار سرپرست وزارت معارف از ...

زیرا این کشور مراحل دشواری پشت سر گذشتانده و اکنون از نسل جوان انتظار آبادی و خدمت صادقانه را دارد.»

وی در ادامه تصریح کرد: «علوم دینی هدف اصلی ما است و علوم عصری نیاز ما، ما باید از این طریق کشور خود را از نیازمندی به بیگانگان نجات دهیم و افغانستان با عزت، مستقل و پیشرفته بسازیم.»

وی به شاگردان توصیه کرد که باید بیشترین تلاش را در جهت آموزش علوم به خرج داده، وقت خود را برای مطالعه، درس و ابتکارات علمی اختصاص دهند و هیچ‌گاه در مسیر کسب علم قناعت نکنند.

سپس رئیس معارف شهر کابل نیز طی سخنانی، از تشریف‌آوری سرپرست محترم وزارت معارف به لیسه یاد شده و رهنمودهای ایشان سپاسگزاری کرده، اطمینان داد که در زمینه تطبیق اوامر، پلان ها و فیصله های مقام رهبری این وزارت تلاش می نمایند.

### بازدید معین تضمین کیفیت از ...

معین تضمین کیفیت همچنان با معلمان و مسئولان لیسه های یاد شده دیدار و گفتگو کرده و در مورد تأمین شفافیت در امتحانات، فراهم سازی فضای مناسب درسی و ایجاد محیط سالم آموزشی برای شاگردان با مسئولین حوزه های یاد شده صحبت‌های تفصیلی انجام داد. سپس معین تضمین کیفیت به صنوف درسی رفته و از جریان امتحانات دیدن کرد. در این جریان، آمران حوزه های چهارم و پنجم تعلیمی و مسئولان لیسه های ذکرشده اطمینان دادند که مطابق اصول و با صداقت کامل، وظایف خویش را به انجام رسانده و به ارتقای کیفیت آموزش شاگردان، همچنان به عنوان یک اولویت، متعهد خواهند بود.

### د پوهنې وزارت په تېرو ۳ مياشتو...

طالب العلمانو او زده کوونکو ته د زده کړې مناسب، معياري او خوندي چاپېريال برابر شوی.

ښاغلي حمزه زياته کړه: تر سره شوې کړنې د هېواد د ښوونيز نظام د کيفيت لوړونې او د هېواد بچيانو ته د معياري او باکيفيته تعليمي نظام د جوړولو په برخه کې د پوهنې وزارت د ژمنتيا او هڅو بېلګه ده چې په پوره صداقت تر سره شوي او دا هڅې به روانې وي.

د يادونې وړ ده چې تېر کال هم په ټول هېواد کې د پوهنې وزارت له بودجې، همدارنګه د هېوادوالو او مرستندويه بنسټونو په مرسته لسګونه مدرسې او ښوونځي جوړ شوي چې په ترڅ کې يې زيات شمېر طالب العلمانو او زده کوونکو ته د زده کړې خوندي او معياري چاپېريال را منځ ته شوی. د پوهنې وزارت مشرتابه له پوهنيز نظام څخه د هېوادوالو ملاتړ ته د قدر په سترګه ګوري او د پوهنيز نظام په پياوړتيا کې د خلکو ونډه ارزښتناکه او مهمه بولي.

### افتتاح یک باب مکتب به...

در فضای مناسب فراهم گردیده است.

نامبرده تأکید ورزید که شاگردان باید در حفاظت و نگهداری تعمیرآن مرکز تعلیمی توجه جدی مبذول دارند.

ناگفته نباید گذاشت که تعمیر مذکور دارای ۸ صنف درسی، یک شعبه اداری، اتاق لابراتوار، اتاق محافظ بوده که شامل سیستم مکمل برق، دیوار احاطوی، یک حلقه چاه آب صحی، تجهیزات ضدحریق ، ۷ غرفه مبرز، ۱۴۴ سیت میز و چوکی برای شاگردان و وسایل ضروری دیگر می باشد.

### په يو شمېر ولايتونو کې ...

مرستندويه ادارو له لوري له ښوونځيو سره د درسي توکو د مرستې څخه يادونه وکړه او وې ويل: د يو تن معارف دوسته هېوادوال لخوا د کابل ښار په يوولسمه ناحيه کې د عبدالرحمن سيدخېلي عالي لېسې سره د ۴۰۰ زره افغانيومرسته کړې چې په پام کې ده په يادو پيسو به د زده‌کوونکو لپاره ۲۰۰ پايې مېزونه، څوکۍ او درسي توکي چمتو شي او همدارنګه په لغمان ولايت کې د يوې خيريه ادارې له لوري د ۱ مېليون او ۶۸۰ زره افغانيو په ارزښت درسي کتابونه او اړين تدريسي مواد چمتو شوي دي چې په يادو توکو کې ۲۸۰۵۰ټوکه کتابونه، د ښوونکو لپاره د تدريسي مرستو ۴۳۹ کڅوړې او ۲۰ سپينې تختې شاملې دي، چې د نوموړي په خبره په پام کې ده د ټاکل شوې سهميې سره سم به په ياد ولايت کې ښوونځيو ته وويشل شي.

د پوهنې وزارت وياند يادې شوې مرستې د پوهنيز نظام په پياوړتيا کې مهمې او ګټورې وبللې او معارف سره يې د هېوادوالو هر اړخيز ملاتړ مهم وباله هغه يادو مرستو ته په اشارې سره وويل: معارف زموږ ټولو ګډ کور دی او دا اړينه ده چې د هغو د لاپراختيا او پياوړتيا لپاره په ګډه کار وکړو.

د يادونې وړ ده چې په تېرو کلونو کې هېوادوالو د معارف په برخه کې د پام وړ مرستې کړې.

### توزیع مواد ممد درسی به ...

مولوی عبدالقیوم فاروقی، رئیس معارف آن ولایت، ضمن قدردانی از نهاد کمک‌کننده گفت: این کمک‌ها بخش زیادی از نیازمندی‌های تعلیمی معلمان و متعلمان را رفع کرده و مشکلات مکاتب را مرفوع خواهد کرد.

# زندگی نامه میرزا عبدالقادر بیدل دهلوی(رحمة الله )

ترتیب کننده: فیض محمد «صدیقی»

ابوالمعانی میرزا عبدالقادر بیدل فرزند میرزا عبدالخالق در سال ۱۰۵۴ هـ. ق. در منطقه پتنه کشور هندوستان دیده به جهان گشود. وی شاعر فارسی گوی هندی است که از ترکان جغتائی برلاس بدخشان بود؛ اما در هند متولد شد و تربیت یافت و بیشتر عمر در شاه جهان آباد دهلی زنده گی کرد و با اندیشه های ژرف آثار منظوم و منثور خود را مطرح نمود.

پدر بیدل دهلوی، از قبیلهٔ برلاس (و به روایتی ارلاس یا ارلات) ترکان جغتایی بود. این قبیله از بخارا به بدخشان و بعد به هندوستان مهاجرت کرده بودند.

بیدل دهلوی قبل از رسیدن به ۵ سالگی پدر خویش را از دست داد و نزد مادرش به آموختن قرآن کریم و الفبای فارسی پرداخت. بعد از یک و نیم سال مادرش نیز وفات نمود و سرپرستی او را کاکایش، میرزا قلندر برعهده گرفت.

اشعاربیدل دهلوی در نظم و نثر سبکی خاص دارد و از برترین نمونه های سبک هندی به شمار می آید.

بیدل دهلوی به سفارش کاکایش به آموختن ادبیات عربی پرداخت، ولی چون به ۱۰ سالگی رسید، میرزا قلندر او را به معرفت حق با خود به حلقهٔ درویشان برد. بیدل دهلوی قبل از زبان مادری اش، بنگالی، با ریخته (که بعدها به زبان اردو شهرت یافت)، سانسکریت و ترکی آشنایی یافت و زبان های فارسی و عربی را نیز در مکتب آموخت. در شش سالگی با قرآن کریم آشنا شد و در کم تر از یک سال آنرا ختم کرد.

بیدل دهلوی اولین سروده هایش را برای کاکایش، که اولین مربی و مشوق او بود، عرضه کرد. میرزا قلندر شاعری درس ناخوانده بود که نکته سنجی های او در شکل گیری شخصیت شاعری بیدل دهلوی بی تأثیر نبوده است، آنقدر که او پیوسته ذوق شاعرانهٔ خود را از کاکای خویش می دانست. بیدل دهلوی در ۱۰۶۹ ق در ۱۷سالگی به سپاهیان میرزا عبداللطیف، از امرای شاهزاده شجاع، پیوست، دوره نوجوانی شاعر مصادف با شایعه بیماری شاه جهان در سال های ۱۰۳۷- ۱۰۶۸ بود و جنگ های درونی بر سر قدرت که عظیم آباد را به یکی از کانون های اصلی شورش تبدیل کرد اما در جریان جنگ قدرت میان فرزندان شاه شجاع، بیدل دهلوی آنان را رها ساخت و همراه میرزا ظریف مامای خود به شهر «کَتَک» (درولایت اریسه در شمال هند) رفت و ۴ سال نزد او به سربرد.

بیدل دهلوی در محضر شاهان اقلیم فقر: «شاه ملوك» «شاه یکه آزاد» و «شاه فاضل» روح عطشانش را از حقایق وجود سیراب میکرد و از مطالعه و تتبع در منابع عرفان اسلامی و شعر غنی فارسی توشه ها برمیگرفت. او در کتاب «چهار عنصر» از کرامات شگفت انگیزی که خود از بزرگان فقر و عزلت مشاهده کرده بود سخن میگوید.

در سال ۱۰۷۱ بیدل دهلوی همراه با میرزا ظریف به مرکز اُریسه رفت و در آن جا با شاه قاسم که در ادب و حکمت و عرفان تبحر داشت، آشنا شد. در سال ۱۰۷۵ به دهلی رفت و در این شهر به خدمت عارف بزرگ، شاه کابلی، رسید.

بیدل دهلوی در دهلی برای گذران زندگی به خدمت سپاه درآمد، اما زمانی که محمداعظم شاه، پسر اورنگ زیب، از او خواست تا مدحیه ای در شأن و منزلتش بسراید از خدمت دولت استعفا داد و پایتخت را ترک کرد. او مدتها در اکبرآباد، لاهور و حسن آباد، شاه جهان آباد و مَتُهرا به سیاحت پرداخت.

بیدل دهلوی در سال ۱۰۷۶ با «شاه کابلی» آشنا شد؛ دیدار با شاه کابلی تأثیری عمیق بر او گذاشت و در همین سال در فراق نخستین مربی معنوی اش میرزا قلندر به ماتم نشست. او در سال ۱۰۷۸ هـ.ق سرودن مثنوی «محیط اعظم» را که دریای عظیمی از حقایق عرفانی است، به پایان رساند.

دیگر عارف بزرگ این دوره مولانا کمال بهاری قادری بود که بیدل دهلوی به او ارادت می ورزید وی در سال ۱۰۷۹ هـ. ق. به خدمت محمداعظم بن اورنگ زیب پیوست. بعد، به سیاحت پرداخت، بیدل دهلوی در سال ۱۰۹۶ هـ.ق به دهلی رفت و با حمایت و کمك نواب شکرا خان، داماد عاقل خان راضی، مقدمات یك زندگی توأم با آرامش را در دهلی فراهم کرد. زندگی شاعر بزرگ در این سالها به تأمل و تفکر و سرایش شعر گذشت و منزل وی میعادگاه شاعران و اهل فکر بود، در همین سالها بود که بیدل دهلوی به تکمیل مثنوی «عرفان» پرداخت و این مثنوی عظیم عرفانی را در سال ۱۱۲۴ هـ.ق به پایان رساند، با وجود تشنج و درگیری های سیاسی در بین سران سیاسی هند و شورش های منطقه ای و آشفتگی اوضاع، عارف شاعر تا آخرین روز زندگی خود از تفکرات ناب عرفانی باز نماند.

تا سالهای ۱۹۲۰ م تأثیر و نفوذ بیدل دهلوی بر ادبیات آسیای میانه، تاجیکستان، افغانستان ادامه داشته است.

آثار بیدل دهلوی

از بیدل دهلوی غیر از دیوان غزلیات آثار ارزشمند دیگری در دست است که مهمترین آن ها عبارتند از:

- مثنوی عرفان
- مثنوی محیط اعظم
- مثنوی طور معرفت
- مثنوی طلسم حیرت
- رباعیات
- چهار عنصر (زندگینامه خود نوشت شاعر )
- رقعات
- نکات

## نعت شریف

د رسالت فرمان يې تول جهان منلی دی
رسول الله زمونږه ښکلی دی
د دواړو جهانونو سردار په عظمت او مدار
په دغه لار يې خپل تول امت را بللی دی
رسول الله زمونږه ښکلی دی
موږ ته يې اسلام راوړی کتاب قران راوړی
دي پاکې لارې ته يې جهان رابللی دی
رسول الله زموږه ښکلی دی
د محمد عربي چې څوک يې دی امتي
ورځ تر قيامته پدې لار ځي
په پاک زړګي اوعقيده پدې لار تللی دی
رسول الله زموږه ښکلی دی

محمد اکرم وفادار

## غوره ویناوې

- د خلکو له ويرې به د حق خبره نه پريږدو، ځکه!نه څوک زموږ مرګ رانږدې کولای شي او نه څوک زموږ رزق راڅخه اخيستلای شي.
- د ژوند سختې ورځې انسان پياوړی کوي.
- هغه ايمان چې تا جومات ته نشي بېولی، جنت ته به دې ځنګه بوځي؟
- قرآن کريم هغه يواځينی کتاب دی چې د ژوند تيارې ختموي.
- يو کرام عمل، له ډېروخبرو ښه دی.
- هغه خوند چې له علم څخه ترلاسه کېږي سپيڅلی او خالص وي.
- خپل جسم او ذهن دواړه تل فعاله ساته .
- زيات خوړل او ډېر ويده کيدل د هلاکت لامل ګرځي.

## حکایت بهلول و مرد کفش دوز دزد

بهلول که خانه ای نداشت، بدنبال مکانی برای سکونت بود. لذا در مخروبه ی در آخر شهر ساکن شد. در کنار این مخروبه، مرد کفش دوزی نیز خانه داشت. موقعیت خانه کفش دوز به گونه ای بود که به خرابه و همچنین بهلول نظارت کامل داشت.

بهلول از مال دنیا چیزی نداشت، جز صد درهم که آن را در مخروبه و در زیر خاک پنهان کرده بود. گاهی در میانه شب، بهلول محل را می شکافت و به قدر نیاز یک درهمی بر می داشت و باز بقیه را در زیر خاک مخفی می کرد.

شبی از شب ها، کفش دوز که خوابش نمی برد به بیرون نگاه کرد. بهلول را دید که در حال کنار زدن خاک در گوشه ای از مخروبه بود. او احتمال داد که بهلول در آن محل، چیزی را پنهان کرده است. فردا آن روزی که بهلول مخروبه را ترک کرد، کفش دوز وارد خرابه شد و محل را شکافت. کیسه درهم را یافت. آن ها را برداشت و آرام، خرابه را ترک کرد.

از قضا نیمه شبی که بهلول به پول احتیاج داشت؛ رفت و جای پول‌ها را زیر و رو نمود، اثری از پول‌ها ندید. او احتمال داد که تنها کسی که می تواند پول را برداشته باشد، کفش دوز است.

لذا هیچ سر و صدایی نکرد. چند روز گذشت و بهلول به خانه کفش دوز رفت.

بهلول به کفش دوز گفت: برادر من وارثی ندارم. اما می خواهم رازی را با تو در میان بگذارم. برایم حسابی بکن.

کفش دوز گفت: بفرما برادر. در خدمت هستم.

بهلول محل چند خرابه را نام برد و ذکر کرد که در هر کدام از خرابه ها مقدار مبلغی را پنهان کرده است. در آخر هم گفت در همین خرابه هم فلان مبلغ پنهان کرده است. از کفش دوز پرسید کل پول ها چقدر شده است.

کفش دوز گفت: دو هزار دینار.

بهلول تأملی نمود و بعد گفت: رفیق عزیز! می‌خواهم مرا مشورت کنی!

کفش دوز گفت:هر مشورتی بخواهی در خدمت هستم.

بهلول گفت: می‌خواهم همه پول‌ها را که در جاهای دیگر پنهان کرده ام، همه را به همین جایی که سکونت دارم، انتقال دهم. چه صلاح می بینی؟

کفش دوز بلافاصله گفت: فکر بسیار عالی و پسندیده ای است. باید تمام دارایی خود را در نزد خودت نگه داری.

بهلول گفت: پس مشورت تو را قبول می‌نمایم و می‌روم تا تمام پول‌ها را بردارم و بیاورم و در همین خرابه پنهان نمایم. این را گفت و فوراً از نزد کفش دوز دور شد.

کفش دوز بعد از رفتن بهلول با خود گفت: بهتر است این مختصر پولی را که از زیر خاک بیرون آورده‌ام سرجای خود بگذارم. بعد که بهلول، تمامی پول‌ها را آورد به یک‌باره محل آنها را پیدا و تمام پول‌های او را بردارم.

با این فکر تمام پول‌هایی را که از بهلول ربوده بود سر جایش گذاشت. پس از چند ساعتی که بهلول به آن خرابه آمد و محل پول‌ها را نگاه کرد، دید که کفش دوز پول‌ها را باز گردانده و سر جای خود گذاشته است. پول‌ها را برداشت و خرابه را ترک کرد و به جای دیگری نقل مکان کرد.

## راز خوشبختی

روزی مردی نزد حکیمی دانا رفت و گفت:

ای حکیم! سال‌هاست دنبال خوشبختی‌ام، اما هرچه می‌دوم، آن را نمی‌یابم. ثروت جمع کردم، سفر رفتم، مقام گرفتم، ولی هنوز در دلم خلا هست. راز خوشبختی را به من بگو.

حکیم لبخندی زد و گفت: «خوشبختی در دستان توست، اما چون چشم‌هایت به بیرون دوخته شده، آن را نمی‌بینی. بگذار با یک داستانی برایت توضیح دهم.

او ادامه داد:

در روزگاری دور، پادشاهی به دنبال خوشبخت ترین انسان کشورش گشت تا راز خوشبختی را از او بیاموزد. پس فرمان داد که در سراسر سرزمین جست‌وجو کنند. پس از ماه‌ها، فرستادگانش مردی را در دهکده‌ای کوچک یافتند که ساده می‌زیست، اما لبخند از لبش جدا نمی‌شد. او نه قصر داشت، نه ثروت، نه مقام. اما هر روز از دل کارش لذت می‌برد، با خانواده‌اش مهربان بود و به مردم خدمت می‌کرد.

او را نزد پادشاه آوردند.

پادشاه با شگفتی از او پرسید: راز خوشبختی تو چیست؟

مرد گفت:

من هر روز برای چیزی که دارم شکر می کنم، کار می کنم نه برای بیشتر داشتن، بلکه برای بهتر بودن. مهربانی را فراموش نمی کنم و دل کسی را نمی شکنم. خوشبختی چیزی نیست که بیرون بجویی؛ نوری است که باید از درون بتابد.

حکیم رو به مرد جوان کرد و گفت:

خوشبختی، در رضایت از لحظهٔ اکنون، در مهر به دیگران، و در آرامش دل است. هرگاه دست از دویدن برداری و به آن‌چه داری بنگری، خواهی دید که خوشبختی از آغاز با تو بوده است.

نتیجه: راز خوشبختی در ساده زیستن، شکرگزاری، مهربانی و رضایت از دل است؛ نه در دارایی‌های بیرونی.

عزیزالله پارسا

# Marif
Weekly

**کتنپلاوی:** الحاج مولوي شهاب الدين «ثاقب»
مولوي عزيز احمد «ريان»
مفتی حبيب الله «قتاده نوري»
احمد شعيب «حقيقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسيم «عياذ»
**مسئول مدير:** سعيد «جلال»
**انځور اخيستونکی:** محمد ادريس «نوري»
محمد اشرف «رسولي»

**صفحه آرا :** محمد قسيم «يعقوبي»
**شمېر :** ۳۰۰۰
**پته:** د کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړيکو رياست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمريت
**د پوهنې کاروان مينه والو!**
تاسو کولای شئ خپلې ليکنې، وړانديزونه او نيوکې په لاندې برېښنا ليک او شمېرې زموږ سره شريکې کړئ.
Marifnewspaper1919@gmail.com
**د اړيکې شمېره:** ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 305 /2025


# د پوهنې وزارت سرپرست د تېرو درېو مياشتو کې د ښوونيز بهير د ارزولو په موخه يو شمېر ولايتونو ته سفرونه کړي دي

د پوهنې وزارت سرپرست محترم الحاج مولوي حبيب الله آغا د ښوونيز بهير څخه د څارنې او ارزونې په موخه يو شمېر ولايتونو ته سفرونه کړي او هلته يې د پوهنې رياستونو له مسئولينو سربېره د يو شمېر علماء کرامو، قومي مشرانو او ولايتي مسئولينو سره د پوهنيز نظام د پياوړتيا او ودې په برخه کې خبرې کړي .په دغو سفرونو کې غزني، کندهار، فراه، فارياب، بدخشان، جوزجان، پکتيکا او لوګر ولايتونه شامل دي چې د پوهنې وزارت سرپرست د خپلو سفرونو په ترخ کې د يادو ولايتونو د پوهنې له مسئولينو، يو شمېر علماءکرامو او قومي مشرانو



سره په کتنو کې، د پوهنې وزارت د قوانينو او کړنلارو د تشريح کولو ترڅنګ، د يو شمېر ښوونځيو، مدارسو او دارالايتامونو څخه ليدنې هم کړې. او د يادو ليدنو په ترخ کې يې د ديني او عصري علومو په ارزښت هر اړخيزې خبرې کړي.

همدارنګه نوموړي د همکارو بنسټونو، ملي سوداګرو، معارف دوسته هېواوالو او د پوهنې وزارت له بودجې څخه، د فارياب، جوزجان، پکتيکا او لوګر ولايتونو په مرکز او ولسواليو کې د يو شمېر ښوونيزو مرکزونو نوې ودانۍ پرانيستي او د يو شمېر نورو د بنسټ ډبرې يې کېښودلي.

د يادونې وړ ده چې د پوهنې وزارت د سرپرست او لوړ پوړي چارواکي د هېواد پوهنيز نظام له بهير څخه د څارنې او ارزونې په موخه وخت ناوخت ولايتونو ته سفرونه کوي او د معارف کيفيت د لا ښه والي او لوړولو په برخه کې له ولايتي مسئولينو سره ناستې تر سره کوي.

# په يو شمېر ولايتونو کې د شاوخوا ۷٦ مېليونو افغانيو په ارزښت درسي توکي ووېشل شول

په يو شمېر ولايتونو کې د شاوخوا ۷۶ ميليون افغانيو په ارزښت درسي توکي ووېشل شول

تېره مياشت په کابل، غزني، فارياب، لغمان او لوګر ولايتونو کې د خلکو او د پوهنې په برخه کې د يو شمېر بنسټونو له لوري د شاوخوا ۷۶ مېليونو افغانيو په ارزښت درسي توکي، کتابونه، څوکۍ او ميزونو د وېش لړۍ پيل شوه.

د پوهنې وزارت وياند محترم قاري منصور احمد حمزه د معارف اوونيزې سره د يوې ځانګړې مرکې په ترخ کې وويل: په غزني ولايت کې د ۷۲ مېليونه افغانيو په ارزښت کتابونه، د ښوونځي بکسونه، خېمې، توري تختې، د لومړي ټولګي څخه تر درېيم ټولګي پورې درسي کتابونه او نور اړين توکي د يوې همکارۍ اداري په مرسته چمتو او د ياد ولايت پوهنې رياست ته سپارل شوي چې د ياد



ولايت په ښوونځيو کې به يې د وېش لړۍ ډېر ژر پيل شي. همدارنګه په تېره مياشت کې د غزني ولايت سربېره په لوګر ولايت کې د زده کوونکو لپاره د لا زياتو ښوونيزو آسانتياوو برابرولو په موخه د ياد ولايت د ښوونځيو لپاره د شاوخوا يو مېليون افغانيو په ارزښت ۶۰۰ پايې ميزونه او څوکۍ چمتو شوې چې د پوهنې وزارت له خوا به د ځانګړې سهميې سره سم، د ياد ولايت په مرکز او ولسواليو کې د اړتيا سره سم ښوونځيو ته ووېشل شي.

ښاغلي حمزه همداراز زياته کړه: د تېرې مياشتې په بهير کې د فارياب ولايت د صنفي اصولو ښوونکو او زده‌کوونکو لپاره د کتابونو او تدريسي مرستو د وېش بهير پيل شو. په يادو توکو کې د زده‌کوونکو لپاره د تدريسي مرستو ۱۰۳۴ کڅوړې، د ښوونکو لپاره ۶۱۷ ځانګړي بستې، د ښوونځي د اداري موادو ۴۸ کڅوړې، ۱۰۴۴ مارکر قلمونه، ۳ پايې خېمې، اړين مواد، او ۱۳ زره ۸۷۶توکه درسي کتابونه شامل دي، چې د پوهنې وزارت سره د يوې همکارۍ اداري لخوا د ښوونځيو زده‌کوونکو او ښوونکو لپاره چمتو شوي دي.

ښاغلي حمزه همداراز په کابل او لغمان ولايتونو کې د هېوادوالو او... ص ۲مخ

# بازديد معين تضمين کيفيت از جريان امتحانات شماری ازمکاتب شهر کابل

محترم الحاج مولوی عبدالخالق صادق، معين تضمين کيفيت وزارت معارف، همراه با محترم مولوی غلام ربی ربانی، رئيس نظارت و ارزيابی، در حاليکه از سوی آمرين حوزه های چهارم و پنجم تعليمی شهر کابل همراهی می شد، از روند امتحانات چهارو نيم ماهه شاگردان ليسه های ابوذرغفاری، نادريه و ليسه خصوصی دېوه ديدن نمود... ص۲




# د ميدان وردګ ولايت غازي محمد جان خان عالي لېسې ودانۍ بيا ورغول شوه



د ميدان وردګ ولايت جغتو ولسوالۍ اړوند د غازي محمد جان خان عالي لېسې د ودانۍ بيارغونې چارې چې د ترکيې هېواد د خيريه بنسټ لخوا د ۸ مېليونه او ۴ سوه زره افغانيو په لګښت پيل شوې وې، د چارو تر بشپړېدو وروسته د يوې غونډې په ترخ کې چې په کې د پوهنې وزارت د بهرنيو اړيکو رئيس محترم مولوي حسيب الله صاحب‌زاده، د ميدان وردګ ولايت د پوهنې رئيس محترم مولوي محمد عثمان حريت، د اقتصاد وزارت د مقام د دفتر رئيس محترم شيخ عبدالباري او د ياد ولايت يو شمېر نورو مسئولينو ګډون درلود، ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه.

مسئولينو په خپلو ويناوو کې، د ياد خيريه بنسټ څخه مننه وکړه او له خلکو يې وغوښتل چې خپل ماشومان د علم او پوهې د تر لاسه کولو په موخه ښوونيزو مرکزونو ته ولېږي.

همدارنګه د ياد ولايت د پوهنې رياست مسئولينو ډاډ ورکړ چې د پوهنې په برخه کې به نورې بنسټيزې پروژې هم پلي شي.

د يادونې وړ ده چې، د پوهنې وزارت په ټول هېواد کې د مدارسو او ښوونځيو لپاره د معياري ودانيو جوړولو ته هڅې کوي، تر څو طالب العلمان او زده‌کونکي وکولی شي، په خوندي او مناسب معياري چاپېريال کې زده‌کړې وکړي.

# په هرات کې د يو تن هېوادوال په مالي مرسته يو باب ديني مدرسه جوړه شوه

د هرات ولايت سفلی ولسوالۍ په بقند کلي کې د حضرت عثمان ذوالنورين «رضی الله عنه» په نوم د يو باب ديني مدرسې ودانۍ، چې د ۴۵۰ زره افغانيو په لګښت د يادې ولسوالۍ د متدين او علم دوست شخصيت حاجي صاحب دوست محمد خان په مالي مرسته جوړه شوې وه، د ياد ولايت د پوهنې رياست د مسئولينو لخوا د يو لړ مراسمو په ترخ کې تر پرانيستو وروسته ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه.

ديادې مدرسې ودانۍ چې په معياري ډول جوړه شوې، ۴ درسي ټولګي، يو محراب مسجد او نور اړين ملحقات لري.

د پوهنې رياست مسئولينو په وينا، د يادې ودانۍ په جوړولو سره په لسګونو تنه طالب العلمانو لپاره مناسب ښوونيز چاپېريال رامنځ ته شوی.

د پوهنې وزارت له ښوونيز نظام سره د هېوادوالو له همکاريو قدرداني کوي او دا ډول مرستې په ټولنه کې د اسلامي زده‌کړو لاښه والي په برخه کې مهم ګام ګڼي.




**با فتح و روی کار آمدن نظام اسلامی در کشور به معارف عزيز ما زمينه بهتر پيشرفت مهيا شده است.**